سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۱۵

# د ولسمشری ټاکنې ټکنی ښکاری

داسی ښکاری چی د افغانستان د سولی خبری د انجماد او یخ وهلی حالت نه مخ په راوتو دی او لکه د اقلیم گرموالی چی د شمالی منجمد بحر د یخ د غرونو د ورو ورو را ویلی کیدو سبب کیږی، همداسی د امریکا،روسی،چین، هند او نورو د افغانستان د گاونډیو هیوادونه په حرکت راغلی او د دوی نوی هلی ځلی او منډی ترړی سړی ته داسی فکر پیدا کوی چی، په افغانستان کی د سولی د راتلو په کڅه دا ټول زبرځواکونه او گاونډیان پوهیدلی او دا ورته بهتره ښکاره شوی چی که دی وطن کی سوله راشی، د جنگ نه به په سوله کی د دوی گټی هم ښی خوندی پاتی شی. په دی برخه کی یواځی د افغانانو دایمی بدخواهان (ایران او پاکستان) نه به غیر نور ټول دی نتیجی ته رسیدلی ښکاری چی یو قوی، سوله ایز او باثباته افغانستان د دوی په گټه دی نسبت یو ناتوان، متزلزل او نا آرام افغانستان ته. دا چی دا دوه نژدی گاونډیان ولی د یوه باثباته او قوی افغانستان د جوړیدو سره مخالفت کوی دلیلونه یی د لمر غوندی ځرگند دی او تکرار یی راته اړین نه ښکاری.

که په دی لنډو ورځو کی په افغانستان کی د سولی د راتلو د پاره د متحده ایالاتو د دولت او د روس او چین د دولتونو هلو ځلو ته وگورو نو پوهیدلی شو چی، دا اوسني حرکتونه، غونډی او بحثونه د پخوانیو حرکتونو سره ډیر توپیر لری. پخوانی حرکتونه په پټه تر سره کیده او یا هم د ځینو مشخصو حلقاتو او سازمانونو له خوا بی له دی چی په دی معضله کی ښکیلی خواوی پکی را گډی شی پرمخ بیول کیدل، خو اوس د امریکی له خوا د دی ستونزی په ټولو جزئیاتو دباخبر شخص جناب ډاکټر زلمی خلیلزاد د سولی د تامین نوی ماموریت، هغه هم د یوه زمانی حد په ټاکلو سره ،چی د خبری منابعو له اړخه د شپږو میاشتو نه تر یوکاله پوری موده ورته تعین شویده، له یوی خوا، او د روس د دولت علاقه منډی له بلی خو او تر ټولو مهمه دا چی د دی دواړو خواو سره د طالبانو د جنگی ډلی اړیکی نیول،د مسکو د غونډی په جریان کی، په مطبوعاتی کنفرانسونو کی نړیوالو ته د خپل دریځ ځرگندول او په نسبتاً بدله او یوڅه آزاده فضا کی د طالبانو د هیئت د مشر عباس ستانکزی د لنډی فیشنی ږیری سره نوی ځیره او د ښځینه ژورنالستانو سره خصوصاً د ښځو د حقونو په باره کی خبری کول، ټول هغه ځیزونه دی چی تر دی وړاندی یی هیڅ درک نه لگیده. برسیره پردی د کابل د ملی یووالی د دولت د مشرانو او واکدارانو سره د زلمی خلیلزاد لیدنی کتنی او ورسره د مسکو په غونډه کی د سولی د عالی شورا د گډون کونکی هیئت هغه ځرگندونی چی د مطبوعاتی کنفرانسونو



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

او ناستو له لاری یی د عامه خبرتیاو په منظور د رسنیو سره شریکی کړی دی، ټول هغه شنه څراغونه دی چی د سولی د تامین د پاره افغان ولس ته ور ښول شویدی.

داخو هغه نا معکومی هیلی دی چی په افغانستان کی د سولی د راتلو د پاره د عامو خلکو او د سختو فشارونو لاندی د پرتو ولسونو په زړونو کی را ژوندی شویدی، خو ایا سولی دته د رسیدو په لار کی پراته ممانعتونه به د دی پروسی د لا نورځنډ د پاره څومره ستونزی را ایجاد کاندی هسی یوه پوښتنه ده چی سم ځواب ورته نشی ورکول کیدای. تر ټول لومړی او ډیره ښکاره مانع زموږ دوه همسایه هیوادونه ایران او پاکستان دی. لکه مخکی چی مو وویل دوی هیڅکله نه غواړی چی په خپل څنګ کی یو باثباته او له ستونزو خلاص افغانستان و وینی ځکه بیا به د افغانستان طبیعی شتمنی د دوی د له خولی نه و وزی او لکه اوس چی ورته لاس رسی لری بیا به یی و نه لری.

دویمه ستونزه چی د لومړی ستونزی نه په هیڅ وجه کوچنی او بی ارزښته نه ده هغه په هیواد کی د ننه د موجوده واکمنانو او چاراواکو د واکونو له منځه تلل او یا د ګټو محدودیت دی، د لویو مفسیدینو او د عامه شتمنیو او ورسره د بهرنیو مرستو د چور او چپاول ډلی او حلقی دی، د مخدره موادو قاچاق وړونکی، د دولتی ځمکو او د شخصی شتمنیو غاصبین او د دولتی قدرت انحصارونکی دی چی دا قدرت خپل میراثی حق ګڼی د پلار نه زوی او د ورور نه باید ورو ته ورپاتی شی. دا ټولی هغه موانع دی چی د سولی د راتلو په لاره کی به هر څومره چی کولی شی خنډونه ایجاد کاندی، خو ورسره دا باور هم شته چی که هغه چا چی اصلاً یی د الوبه را پیل کړیده په رښتیا و غواړی چی دا لوبه نوره ختمه کړی بیا به د سولی د دی ټولو مخالیفینو هلی ځلی ډومره لوی تاثیر و نه لری چی دا پروسه د ماتی سره مخ کړی.

د مثال په توګه: ډاکټر اشرف غنی د بیا ځلی د پاره ځان د ریاست جمهوری څوکی ته کاندید کړیدی او وای هغه څه چی می پیل کړی باید پای ته یی ورسوم او په دی باوری هم دی چی په هره بیه چی وی دا چوکی ورنه څوک نشی نیولی نو دا بیخی څرګنده ده چی د سل واری سولی د راتلو نه ورته د خپل مقام لاس ته راوړنه ډیر ارزښت لری. نوی ډول ډول د قدرت نیولو د پاره ایتلافونه هم په دی تکل کی دی چی یا لوړ مقامونه و ګټی او یا هم اقلاً داسی یو حالت را منځ ته کړی چی د اوه لسو تیرو کلونو په اوږدو کی تر د لاسه کړی د چور او فساد له لاری ګټلی شتمنی خو وساتلی شی او د ملی محاکمی میز ته راکش نشی.

خو دا هم څرګنده ده چی که امریکا غوښتی وی دا موانع ټولی په اسانی سره له منځه وړلی شی. نو له همدی وجهی نه دا سی اوازی خوری دی چی د یوی موقتی اداری په رامنځ ته کیدو سره به موجوده د ملی یووالی تش په نوم اداره ختمیږی، پراخه عنعنوی لویه جرګه به د ټول ملت د ریښتینو استازو په ګډون جوړیږی، د سولی د ملی پروسی د بری د پاره به د نړیوالو نورمونو سره یو ځای د ملی نرخونو د په کارولو له مخی یو کاری طرز العمل رامنځ ته کوی او کله چی دا پروسه بری ته ورسیده تر هغی وروسته به د ټول ټاکنو د پاره په ټول هیواد کی بی له کواښ څخه لاره اواریږی.

که دا اوازی چی نه یوازی د هیواد په دننه کی پری خبری کیږی بلکی د نړی معتبری رسنی هم ورباندی تبصری کوی تحقق و مومی نو بیا د نوی لمریز کال د حمل د میاشتی ټول ټاکنی به حتمی ځنډیږی او د مؤقتی اداری د جوړیدو بندو بس به کیږی. بی له انتظاره بله چاره نه لرو. پای